مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۰۱/۱۱

# غزل

# د آزادۍ نارې

وړي روغ جسدونه لیوني د سیند موجونه شول
هر لـورې د درد او بـد بختیو توپانونه شول

ژبه د احساس مې ګونګه شوې نظر هم مات دی
ژوند نه چې منکرشومه هرخواته مې دردونه شول

زه د شاعرۍ احساس په وهـم غولـولی یـم
ځکه مې قلم باندې خواره درد او اورونه شول

ما په آزادۍ کې چې نــارې د آزادۍ وکړې
اوس مې په لاسو کې زولنې او ځنځیرونه شول

زانګـم پسرلـیه د وحشت پـه تـنـابـونـو کې
ژوند مې په صحرا شو د جنون مې مزلونه شول

مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۰۱/۰۹



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com